مصطفی پسرلی ۲۰۱۹/۰۷/۱۲

# بپوسي

سخت شرمنده پـه دې دنیا به شمه
ګوره د خـلکو د خـنـدا به شمه

نه مسلمان او نه کافـر ښکارېږم
په خپله خاوره مساپر ښکارېږم

ښــه مـلامـتـه او رسـوا به شمه
ګــوره د خلکو د خنـدا به شمه

ویده احساس ښه په نشه کې ډوب یم
د پردي جنګ په فلسفه کې ډوب یم

ساړه آهونه او واویلا به شمه
ګوره د خلکو د خندا به شمه

زه د ژوندون د ژوند سامان نه لرم
ښپو لاندې ځمکه، پاس آسمان نه لرم

مرګ راپسې اخر فـنـاه به شمه
ګوره د خلکو د خندا به شمه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

د بېوسی ژونـد په خوبو تېـروم

خوږې لمحې په اندېښنو تېـروم

شمع خو نه یـم چې رڼا به شمه

ګـوره د خلکو د خندا به شمه

مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۷/۱۰

* ***** *

** * ** * ** * **

** * * * **

***

**یادونه:**

**که چیری ګران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!**

بـــیـــوســـی

Mostafa_p_٦٧_bewoissi.pdf